كله چې ستاسو څخه يو څوک جومات ته ننوت نو ودې وايي: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، يعنې اې الله! ماته ستا د رحمت دروازې پرانيزه، او كله چې راووځي نو ودې وايي: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ. يعنې اې الله! زه ستا څخه ستا د فضل غوښتنه كوم

له ابو حميد او يا له ابو اسيد څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كله چې ستاسو څخه يو څوک جومات ته ننوت نو ودې وايي: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، يعنې اې الله! ماته ستا د رحمت دروازې پرانيزه، او كله چې راووځي نو ودې وايي: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ. يعنې اې الله! زه ستا څخه ستا د فضل غوښتنه كوم».

[صحيح دى] [مسلم روايت كړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امت ته د هغې دعا وييلو لارښوونه كړې ده چې جومات ته د ننوتلو پر مهال وييل كيږي چې هغه : (اللَّهُمَّ افْتَحْ لي أَبْوابَ رَحْمَتِكَ) ده، نو له الله تعالى څخه سوال كوي چې د خپل رحمت اسباب ورته آسان كړي، او له الله تعالى څخه د هغه د فضل او زياتې سېبګڼې غوښتنه كوي لكه: د حلال رزق.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65092